بسم الله الرحمن الرحيم

سوله یونیک اوښه نوم دی چې دالله اودرسول ص خوښ نوم دی نوځکه الله جل جلاله په قرانکریم کې هم دصلحی یاسولی نوم څوځایه ذکرکړیدی،ددي سره سره سوله دالله په مځکه کې دالله دبندگانولپاره دالله دلوری یوبې ساری، لوی نعمت دی اودبندگانوورته هروخت اشدضرورت دی ،سوله اول زموږدافغانانولپاره دویم زموږ دټولوګاونډیولپاره اودریم د دټولي سیمي اوټولي نړی لپاره یومبرم ضرورت دی که په دغه هیوادکې چې داسیایي هیوادونودزړه حیثیت لري سوله نه وې نوبیابه سیمه اونړی هم ورسره په تشویش کې وې ځکه چې زموږهیواددنورې نړی جزاوغړی دی، موږچې کله دسولې ذکرکوو په اوتوماتیک ډول سره داسوال مخې ته راځې چې زموږ په وړاندې یوه لویه ستونزه پرته ده کومه چې سولې اوټیکاو ته اړتیا لرې اوموږبایدداستونزه هرو مروحل کړو،زمادداسي ستونزه هروخت دوامتضادي لاري لټول سويدي چې یوزوراوبل یې مذاکره ده،خوداپه هغواړخونوپوري اړه لري چې په دغوستونزوکې راښکیل وي چې کومي لاري ته ترجیح ورکوي،داچې زموږپه هیوادکې متاسفانه دزورو مغروره اوپه نوي اوعصري تکنالوژی سمبال اړخ جنګ ته ترجیح ورکړیده کومه چې هغه دوینوتویولوخرابی اودښمنیودراټوکولوپرته بله لاسته راوړنه نلري،همدغه ناروابي منطقه اوظالمانه ستراتیژی ته یې یولس کاله دوام ورکړیدی اوتراوسه پوري هم دوام لري چې په همدي جنګ کې تریولک اوپنځوس زره زیات معصوم افغانان په شهادت رسولي اوډیرکلي کورونه یې دخاوروسره خاوري کړیدي اوپه لکونوافغانان یې دکورونوپریښنودلوته اړکړیدي.

داچې ددي سرتمبه اوبي ځایه زوراودخپلوزرګونوعسکرودسرونودبیي دبلیاردونوډالرودضائع کولو سره سره دوی په دې سره ونه توانیدله چې خپل دزورسلطه هدف اوواکمني پریوه خپلواکه هیوادومني اوپه خپله ناکامی سره یې اقرراواعتراف هم کړیدی نواوس ددې وخت رارسیدلی دی چې دویمه لاره پلي کړای سی چې هغه دمعلوقیت منطق اودحل لاره ده ،زماپه نظرکه په رشتیاسره ستونزه حل کول هدف وې اوپه په ربښتیاسره زموږپه هیوادکې موجوده اجنبي نابللي قوتونه اوورسره دهغوی په متوسره واکمن افغانان ورته رشتیني وې نو دپه اپکارده چې ددغه ستونزو بنستیزعلتونه وڅیړل سي ترڅوددغه ستونزې اصلي علت اومرض پیداسي اوبیاورته دوا وکتل سي که ددغه مرض په پوره ډول تشخیص ونسي ګرانه به وې چې هره دوا اوستراتیجي دې ورته پایده وکړې.

ددې لپاره چې موږاصلي موضوع ته ورسو په سیمه اوافغانستان کې دوه ډوله سولې ته ضرورت دی یوه بایدفورې اوعاجله سوله وې چې په سیمه کې دجنګ مخه ونیول سي اووینې تویول ودرول سي، داسوله زماپه نظرداسې راتللای سې چې دجنګ روانه ستراتیجي دنظامي کنټروله و سیاسي لاسونو ته واوړې اوبیا په سیاسي ستراتیجي باندې ورته دحل لاره پیداکړل سي، که په دغه یوه ټکي کې تغیرراسي زه فکرکوم چې بیاورته دحل نورې لارې پیداکیږې زه په دې عقیده یم چې اوس هم دډیروخلکواوحکومتونوسره دغه فکرپیداسوی دی اودخپلواړخونوته هم داثابته سوی ده چې په جنګ باندې هدف ته درسیدولاره ډیره دازغیوډکه لاره ده،ځکه چې جنګ هم خسته کونکی اوهم ډیراوږداوطولاني سواودهري ورځې په تیریدوسره نورمشکلات زیږه وې.

داځکه چې که دجنګ ستراتیجي روانه وې نوبیاهیڅ مانانلرې چې دسولې خبره دې وسې اونه دجنګ ددوام سره سوله راتللای سې.

که دجنګ هرطرف په دي فکرکې وې چې دوی په نظامې فشاراوقوت سره په زوره میدان ګټلای سې اودالارې ته ترجیح ورکوې بیانودسولې خبرې هسې دوخت ضایع کول اودخلکوغولول دې، که دجنګ ستراتیجې دسولې په ستراتیجی سره تغیرسې بیانودنورپرمختګونو لپاره لاره اوستراتیجي جوړیدلای سې اوډیپلوماټیکې هڅې دخلکوحق پیژندل اوپه متقابل احترام سره داستونزه هواریدلای سې خوکه داکارهم وسې بیابه هم دایو موقت حل وې ځکه چې دافغانستان اوږدجنګ هرڅه دځانه سره خوړلې دې، اقتصاد یومخ تباه سویدی هرهغه بنیادې دعوایدوڅانګې چې دغه هیوادلرلې دبینه تللی دې، داوبوسستم، دزراعت مځکې برق مالدارې صنائع ټوله دسره نوې کیده اوکارغواړې بایدداټوله دحکومت دقوې میکانیزم په جوړیدوسره داقتصادې بنیادې پروژوپه پلې کیدوسره په پښوودریږي ،داسې یوه اشتباه بایدبیاتکرارنسې لکه دروسانودوتلووروسته چې تکرارسوله ځکه دروسانوداستعمارسره دافغانستان هرڅه تباه سویوه روونه کلی اوکورونه ولې اوکانالونه صنعتې پابریکې تجارت ټوله دبینه تللی وه حکومت هم فقط په نامه پاته وه اوبس تردې چې یوڅه هم پاته وه هغه دداسې چالاسونوته ولویده چې یایی خرڅ اویایی په داخلې جنګونوکې استعمال کړه خوکه داکارهم وسې دابه ددایمې اوسرتاسرې سولې دراتلولپاره بنسټ اوبنیادجوړسې .

دویمه سوله په دغه هیواداوسیمه کې اساسې اوبنیادې سوله ده چې داسوله ډیرکار،ډیرمشترکات همدارنګه په سیمه کې داعتمادفضاجوړول غواړې،که موږدنړی تاریخ ته وګوروهیڅ وخت داسې نړی نده پاته سوی چې په یوځای کې دې ستونزه نه وې داسې نړی موږپه راتلونکې وخت کې هم نسولیدلای چې هرڅه دیوه هیواد،قشراویوه قوت په خوښه سره عادي جریان ولري اوهیڅ ستونزه دې نه وي، خودابایدووینو چې هره ستونزه بایدپه زورقوت اوسرټمبګی سره حل نکړواوپه معقوله طریقه بایدورته دحل لاره پیداسې.

زه په دې عقیده اوباورنیم چې په نړی دومره ستونزې سته او دومره عمیق مشکلات سته چې دحل امکان یی نسته خودومره ساده هم ندې چې تش په خبرودې حل کړای سې ژور فکرعمیقه ستراتیجې اوپه اخلاص عمل غو اړې، په بنسټیز ډول دپخوانې هنداوافغانستان ترمنځ اوسنی پاکستان جوړه ول دهغه وخت دامپراتوری خپل ضرورت وه داچې داکارڅنګه وسو دادهغه وخت خبره وه خوپه هم دې کارکې دلانجې ټکې په لوی لاس پاته اوپه نښه سوه، چې تراوسه هم دیوه اوبل هدف لپاره دهغوټکوڅخه کله مشروع اوکله غیرمشروع استفاده کیږي،دهمدغولانجوترشانوبیابې شمیره لاسونه کارکوې،همدارنګه نورسیمییزهیوادونه هم اوس په نوو هیلو راټوکیږي چې ځان ته ځانګړې رول غواړې داهم دستونزې یوبل اړخ دی چې هیڅ وخت دپامه نسې غوځول کیدلای،بل اړخ ته نورګاونډي هیوادونه چې خپلومشروع حقونوسره دنامشروع حرص په لټه کې دي خوبیاهم ددغسې تشویشونواوستونزودهوارولولاره ترټولو غوره په ټینګ باورسیمییزتفاهم کیدلای سې، عمده خبره په سیمه کې سیاسې ثبات اودسولې داډه فضا راوستل دی چې داکاربه په سیاسې اواقتصادې لحاظ دټولې سیمې داوسیدونکوپه ګټه وې.

ددې هدف ته درسیدولپاره هم بایدپوره کاروسي اوهم پخه ستراتیژي په کارولوېږي زماپه نظرددي هدف لپاره څوګامونه چې ډېرضروردي هغه دادي اول دسولي دپاره دباوراواعتمادفضاضرورده که دباوراواعتمادفضاجوړه نسي نوخبروته به هیڅ کله هم لاره نه پیداکیږي، ددې لپاره چې هم خبروته لاره پیداسي اوهم په ډاډه اوشفافه توګه په مخ ولاړې سي بایدهم دافغانستان اداره اوورسره اجنبي حاکم قوتونه لاندې ګامونه په عمل توګه واخلي.

اول ـبایدامریکاورسره ددوی متحدین قوتونه دایقیني کړي چې دوی په افغانستان کې په نظامي توګه په هرنامه اوترهرعنوان لاندې چې وي نه پاته کیږي اوخپل اشغالي ستراتیژی به پای ته رسوي،ځکه چې دابنیادي ستونزه ده که داستونزه حل نسي نوپه نوروستونزوکې په مخ تګ نسي کیدلای،

دویم ـ که اول ګام ته ژمنه وي نوددویم ګام لپاره په کارده چې دري ادرسه بایدجوړکړای سي اول دکابل دااداري لپاره چې اوس يي معلوم کړېدی،دویم دذي دخلواجنبي قوتونو لپاره چې اوس پاشلی دی او دریم دوسلوال روان مقاومت لپاره چې اوس يي بیخي نلري.

دریم په مطبوعاتوکې بایددزهروډکه ددښمن ژبه دسولي په خوږه ژبه سره څه ناڅه بدله کړای سي.

څلوم هغه خنډونه چې موږدوړاندې هم دهغوی یادونه وکړه چې دمحرومیت اومحکومیت لاره يي نیولي ده بایددلاري څخه لرې کړل سي.

څلورم.دکابل اداره دروان مقامومت سره په توافق بایددښواوخیرغوښتونکوبي پري اومخلصوافغانانوپه مرسته داسې یوه قوې ستراتیجي جوړه کړي چې ټولوافغانانوته دقبول وړوي کوم چې اوس بیخي وجودنلري اوکه وي هم افغان شموله به نوي.

پنځم. دخارجیانوزندانونه چې هرچیري وې اوپه هرنامه وي بایدوتړل سي بندیان يي یاخوشي سي اویابایدافغانستان ته حواله کړای سي همدارنګه دهغو بندیانوسره چې په مختلفوزندانونوکې دې سیاسي بندیان وبلل سي اودهغوی سره سیاسي برخوردوسي.

څومره چې زه دسیمي اوافغانستان په وضعیت پوهیږم اوڅومره چې دموضوع په حقیقت باندې زماعلم سته دلته په سیموکې دملتونوترمنځ کومه عمده ستونزه نسته ټول ملتونه غواړي چې په سولییزډول باندې یودبل په مرسته سره ژوندوکړې، په دغه سیمه کې په زرګونوکلونودغوملتونوارام سوکاله اوسولییزژوندکړی دی اوبیابه هم په دغه سیمه کي اوسیږي ،هرقوم دبل قوم په درونوالي اواهمیت باندې ښه پوهیږي هغوی پخواهم ژوندکاوه اوس هم ژوندکوې اوبیابه هم ژوندکوې خوعمده ستونزه دسیاسي واکمنانواواشخاصو ترمنځ ده چې دهیڅ قوم اوسیمي نماینده ګې نکوي،خودقومونویابرخودنامه څخه هروخت په یوډول نه یوډول څخه استفاده کوې همدارنګه هروخت په سیمه کي نابللی دلیری واڼ میلمانه هم له دغه ستونزوڅخه ګټه پورته کوې ددې لپاره چې دغه سیاسي واکمنان اوعمده اشخاص همدارنګه نړیوال لوبغاړي څنګه داستونزه په دایمي توګه حل کړې بایدیوڅه مثبت تغیرات اواقتصادې پرمختګونه وسې،داسې تغیرات اواقتصادې پرمختیاچې دخلکواوحکومتونو ترمنځ اړتیاوې اومشترکات ډیرکړې .

دمثال په توګه دپراخواقتصادي رقابتونولپاره اقتصادي پروژې اوازادتجارت زيات کړای سي ددغه تجارت اواقتصادي پروژوسره به ددي اړتياډيره سي چي ډيپلوماتيک روابط ډيرسي دډيپلوماتيکوروابطوددېروالي په صورت کي به دسياسي راکړي ورکړي تعامل ډيرسي چي داپرمختګ به خپله دمتقابل احترام اومشترک ضرورت اهميت زيات کړي همدارنګه به دخلکوترمنځ ددغو اړتياوو په بنياتګ راتګ زيات اوراکړه ورکړه ډيره سي، چي په دي کارسره به دملتونوترمنځ فاصله اواټن راکم سي،خو بيابه هم ددغواړتياوه پربنياد اواساس باندې ددي ضرورت پيداسي چي په ترانزيټ اوويزوکي اسانتياراسي که په دغه سيمه کي اقتصادپه اساسي توګه قوي کړای سي اوټولنيزاقتصادي مشترک ماحول ورغول سي نوداپرمختګ اواقتصادي قوت به پرسياسي اوامنيتي ثبات باندې مستقيم مثبت اثروغورځوي په همدې توګه بايدنورمشترکات هم وکتل سي.

دويم تغيرچي بايدپه حکومتونواوسياسي ستراتجيوکي راسي هغه ديواوبل هيوادپه کورنيوچاروکي عدم مداخلت اومتقابل احترام دی اوس دغه ستونزه په نړيواله او سيمييزه توګه وجودلري چي دداسي ستراتجيوله کبله په خلکوکي هم امنيت خرابيږي اوهم دبې اعتمادی اونه باورفضاجوړه وي .که يوهيواد دبل هيوادپه کورنيوچاروکي لاس وهنه کوي نوبيا هيڅ وخت هغه بل هيواد دهغه په وړاندې بې تفاوته نسي پاته کيدلای که څه هم په اقتصادي اوسياسي توګه هغه ته ورته پوره قوت ونلري، خوکه سياسي اندول اومتقابل احترام نه وي نوبيابه دهغه بل هيواد عکس العمل يوازې دانه چي منفي وي بلکي ډيرخطرناکه به هم وي ،که چيرې داسي اودې ته ورته تغيرات په حقيقي اورشتوني توګه راسي نودابه په امنيتي اواقتصادي همدارنګه په سيمه کي په دايمي سوله باندې ډيره ښه اغيزه وکړي همدارنګه به دهغوهيوادونواواشخاصودلاسوهنی مخه ونيسي کوم چي دخپلوشخصي مفاداتولپاره په لوی لاس غواړي سيمه بې ثباته کړي اودخلکودغربت اواړتياوو څخه ناوړه استفاده وکړي په درناوې.

عبدالسلام (ضعيف)۲۷جون ۲۰۱۲